# National Friedens Jirga

Internationale Beziehungen

Naqibullah Shorish

# Pressemitteilung

Datum :

---

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**وَاِنْ جَنَحُوْ لِسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ اِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيْم .** الايه

**ترجمه :** او که چیرې هغوی(یعنې مخالفین) سولې ته میلان پیداکړي ته هم سولې ته غاړه کیږده یقیناً هغه الله د هر څه اوریدونکی او په هر څه پوه دی.

**زمونږ ګران هیواد افغانستان د یوویشتمې پیړۍ د نړیوال توب په دوره کې چې بنسټ یې په سیالۍ ولاړ دی ژوند کوي. نړیوالتوب په سیاسي ډګر کې له ولسواکی او په اقتصاد کې لـه آزاد بازار څخه پلوي کوي او په ټولنیزو چارو کې د ناامنۍ په وړاندې مبارزه د کړنلارې بنسټیزې کربنې جوړوي. زمونږ ګران افغانستان سره له دې چې ډیر مناسب عوامل لکه طبیعي سرچینې، حاصل خیزه خاوره، له ویاړ څخه ډک کلتور او با استعداده زیارکښې پرګنې لري چې د خپلواکۍ، د ولس د واک او د انساني کرامت د ساتلو لپاره یې له بشري حقونو څخه د ملاتړ لپاره ډیرې مبارزې کړې دي. د ملي وحدت د تامین لپاره د ټولو قومونو او قبایلو ترمنځ د برابرۍ او د هیواد په ټولو سیمو کې د متوازنې پراختیا او ټولنیز عدالت پر بنسټ د یوې داسې هوسا او پرمختللې ټولنې جوړول یې غوښتنه او هیله ده چې انساني کرامت او آزادي په کې له تیري څخه خوندي وي او د جګړې او ټوپک ځاي سوله او قلم ونیسي.**

**دغې اوږدې جګړې د هیواد مادي او معنوي سرچینو ته ډیر تاوان او زیان اړولی دی. زمونږ د هیواد دعلماوو، استادانو، قومي مشرانو، سپین ږیرو، ځوانانو په شمول یونیم میلیون خویندې او وروڼه شهیدان یا معیوبان شول او یو شمیر نور زیات مهاجرت ته اړ شول. په خواشینۍ باید ووایو چې د هرې ورځې په تیریدو سره شخړې زیاتیږي او پرمختیایې پلانونه او پروګرامونه له ګواښ سره مخامخ کیږي او دا غمیزه په ډیر ویرجن ډول اوس هم دوام لري.**

**د بن د کنفرانس د توافقاتو څخه را پدې خوا نژدې اته کاله کیږي چې په دې تراژیدي او جګړې کې د نړۍ یو شمیر هیوادونه هم را ښکیل شویدي. ولې تر اوسه د جګړې د دریدو او غمیزې د ختمیدو په خاطر قاطع او موثر اقدام ترسره شوی ندی.**

**ددې لپاره چې له یوې خوا مو د اسلام د سپیڅلي دین په رڼا او د ولسواکۍ په فضا کې هیواد او افغانانو ته ولسواکي، ملي یووالی، اقتصادي پرمختیا او مناسب خارجي سیاست سازماندهي کړی وي او له بلې خوا مو هغه موانع چې د ځینو دولتي کړیو، ځینو بهرنیو هیوادونو، د دولت د ځینو مخالفینو او مخدره موادو د کاروباریانو له خوا منځ ته راغلي دي، چې د هیوادوالو هوسا او مرفه ژوند یې له ګواښ سره مخامخ کړی، له منځه وړي وي او هم مو د ولسونو د ساتنې او نړیوالې ټولنې د اولادونو د ژوند د ژغورلو په خاطر مناسب او پر موقع اقدام کړی وي د افغانستان د سولې ملي جرګه دسولې لپاره خپله طرحه په لاندې ډول وړاندې کوي.**

# د افغانستان د سولې ملي جرګې طرحه

د افغانستان د کشالې د حل لپاره باید نړیوال کنفرانس یا ملي دودیزه لویه جرګه را وغوښتل شي.

په نوموړي کنفرانس یا ملي دودیزه لویه جرګه کې دولت، د دولت مخالفین(طالبان او حزب اسلامي)، سیاسي او ملي شخصیتونه ګډون وکړي.

کنفرانس یا ملي دودیزه لویه جرګه باید د ملګرو ملتونو په مرسته او د اسلامي کنفرانس په منځګړیتوب د سولې ټوله پروسه پرمخ بوځي او د پریکړو د تطبیق ضمانت یې وشي. کنفرانس باید په یوه داسې هیواد کې دایر شي، چې ټولې اړونده خواوې پرې موافقه وکړي.

د دایمي سولې د تامین لپاره د نړیوال کنفرانس یا ملي دودیزې لویې جرګې د بریالیتوب لپاره لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

**الف:** د مثبتې سولې لپاره باید هڅه وشي چې د ملګرو ملتونو هغه پریکړه لیك چې د طالبانو د تحریک او نورو سیاسي مشرانو سیاسي فعالیت یې غیرقانوني اعلان کړی دی د یو بل پریکړه لیك په واسطه تصحیح شي، د افغاني طالبانو او نورو افغان سیاسي مشرانو نومونه له تور لست څخه وایستل شي او د سیاسي هویت له مخې یې مصوئنیت تامین شي.

**ب:** د ملګرو ملتونو په مرسته او د اسلامي کنفرانس په منځګړیتوب او ابتکار د سولې خپل منځنې خبرو پیلول او د سولې خپلواکه، ناپیلی، بې پرې او افغاني کمیسیون جوړول(وخت او ځای به په خپل منځي خبرو کې ټاکل کیږي).

چې د ښکېلو خواوو لپاره دمنلو و ړ وي.

ج- دېښه نیت څرګندولو او اعتماد د منځ ته راتلو په خاطر په جګړو کې د ښکیلو خواوو له خوا بې قیده او شرطه دېزبندي.

## په کنفرانس یا ملي دودیزه لویه جرګه کې په لاندې ټکو پریکړه کول

۱- په کنفرانس کې پریکړې.

**الف:** دحکومت په جوړښت او میکانیزم پریکړه کول.

**ب:** د هغه داخلي او خارجي عواملو په ګوته کول چې افغانستان کې د سولې او امنیت په وړاندې ګوا ښ ګڼل کیږي .

**ج :**د ټولو خواوو سیاسي او جنګي بندیانو بې قید اوشرطه آزادول.

**د :** په هیواد کې د وسلو د راټولولو لپاره یو داسې میکانیزم جوړول چې ټولې ښکیلې خواوې پرې موافقه ولري .

**ه :** دمسألو د حل لپاره په سوله یزو لیارو چارو موافقه

**و :** افغانان باید د خپلو ملي ګټو د ساتنې لپاره دچارو نوښت په خپل لاس کې ونیسي .

**ز :** د خپلواکۍ ا و ځمکنۍ بشپړتیا تامېنول.

**ح:** دټولو افغانانو منقول اوغیر منقول ملکیتونه خپلو اصلي خاوندانو ته سپارل .

**ط:** په سو له یز ډول په ګډه ژوند کول.

**ی:** له طبيعي زېرمو او سرچينو څخه دملي حاکميت په پام کي نيولو سره ګټه اخيستنه او د هيواد د رغوني او هر اړخيزي ودي لپاره د اولسونو د لومړيتوبونو له مخي د دولت له لباري د اوږدي مودي مرستي په پام کي نيول او د بېوزلي او بيکاری د له منځه وړولو لپاره داسي اقتصادي پلان په لاره اچول چي يتيمانو، معيوبينو او د شهيدانو د اولادونو د ژوندانه هوسايني ته پکي پوره پاملرنه شوې وي.

**ک:** د دولت په جوړښت کي د افغاني ميرمنو حقوق په نظر کي نيول.

**۲ -** د يو منظم ميکانيزم له مخي هيواد ته د کډوالو پر امنه راستنيدل، هغوی ته د کورونو او دندو پيدا کولو امکانات او اجتماعي ضروورياتو په پام کي نيول.

**۳ -** په ځګره ځپلو سيمو کي د تعليمي، روغتيايي، اجتماعي او کارموندني په ګډون د پرمختيايي پروګرامونو پياده کول .

**۴ -** د نړيوالي ټولني په تيره بيا د نړيوالو پوځونو په موجوديت ، اړتيا او د فعاليت پر بنې د افغان ولس نظر .

ددې لپاره چي پورتنی طرحه په رسمي ډول ملي او نړيواله بڼه او ارزښت پيداکړي وي، ضروري ده چي ملګري ملتونه اود امنيت شورا په پورته يادو شويو مطالبو بـاندي نړيوال توافق او د تطبيق ضمانت وکړي او ټول خارجي، سيمه ايز او نړيوال عوامل چي پر افغاني مثبتي سولي منفي اثر لري د ملګرو ملتونو او امنيت شورا د فيصلو په نتيجه کي باطل اعلان شي او د ولسواکی د اصولو مطابق د آزادو ، مستقيمو، سري او بې درغليو ټاکنو لپاره پوره زمينه برابره شي.

د افغانستان دسولي ملي جرګه چي يو ه بې پرې ، ناپيلي ، خپلواکه، خواخوږي ټولنه ده او د دين د عالمانو، د پوهنتونونو د استادانو، ملي شخصيتونو، د ولس د استازو ، د ټولنيزو سازمانونو له مشرانو، قومي سپين ږيرو، ځوانانو، ښځو او محصلانو څخه جوړه ده، تياره ده چي د نړيوالي ټولني او کوربه هيواد سره د ملګرو ملتونو او اسلامي کنفرانس په ملګرتيا د کنفرانس او يا د ملي عنعنوي لويي جرګي د جوړولو په ټوله پروسه کي د يو رښتيني همکار په توګه فعاله ونډه واخلي .

جګړه دحل لپار نده او يوازې سوله کولای شي چي هيواد ته امنيت او ثبات راوړي. په ا فغانستان کي له جګړې څخه دوتلو ډيره اغيزمنه لپار سوله ده او سوله دوخت اړتيا ده. اوس هره ورځ په لس ګونو مليونونه امريکايي ډالر په جګړه لګيږي او که دغه پيسي دافغانستان په هر اړخيزه بيا رغونه ولګيږي يقيناً زمونږ اولادونه او د هغو هيوادونو وګړي چي افغانستان ته راغلي دي د جګړې له کبله به ونه وژل شي.

دانسان وژني مخه نيول زمونږ ملي اوديني وجيبه ده. د سولي دغه طرحه د اسلام د دين او بشري حقونو په رڼا کي او د ګران هيواد د نجيب ولس د ګټو په نظر کي نيولو سره جوړه شوې او د افغانستان د سولي ملي جرګي ارمانونه منعکسوي. سوله زمونږ په لاس کي ده او راځی چي د سولي ددې طرحي د تحقق لپاره يو بل ته په صداقت لاسونه ورکړو.

ومن الله توفيق

د افغانستان د سولي ملي جرګي رئيس

سناتور داکتر باختر (امين زی)

داړيکو شميره: ۰۷۹۹۳۷۱۷۱۰

بريښناليک : senatoraminzay@yahoo.com

---